پوهندوی دوکتور سیدحسام (مل) .

## پاکستان د خپل تجزیه کیدو د مخنیوی په وجهه نه غواړی چې په افغانستا ن کی یوملی باثبات دولت مینځ ته راشي

-----------------------------------------------

## دوهمه برخه

یو - اسلام ګرایي (اسلام پالنی ) : د پا کستان په وړاندی لمړی ګواښ اسلامی افراطیت (فوندامینتالیزم) دی کوم چی د ا سلام افراطی په نوم سره هم یادیږی ، د دغه طریقې یا ددغه روش د ګروپ پیروان له هغو سخت دریځو مسلمانانوڅخه شمیرل کیږی کوم چې غواړی پخپلو اجتماعاتواویا دټولني په ټولو اړینوموسساتو ، نهادونو اوبرخو کی دشریعت اساسات ، قواعد اویا احکام پلی کړل شي. کارپوهانو اود ټولنی ماهرانوداسی انګاری چې ددغه افراطی مسلما نانوغوښتنی یاهد ف دجنرال ضیاوالحق داسلامی کید و (Islamization ) د طرحی او دپروګرام دوام دي کوم چی جنرال ضیاوالحق په دی لته کی وه چی یو شمیر اسلامی خوزښتونو یا جنبشونو ( په نظا می ، تعلیمی ، سیاسيي او اجتماعی برخو کی) ته دآزاد فعالیت د سرته رسولو د پا ره سر خلاص مجوزورکړي کوم چی ددی اسلامی افراطی جنبشو نو څخه یو هم د پا کستان جمیعت العلما وه ، ضیا والحق دغه مذهبی ډلی ټپلی ته اجازه ورکړ چی د پاکستان په داخلی او خارجي سیاست کی پراخ ګډون وکړی اوپه تیره بیا د کشمیر او د افغانستا ن په اړه خپل نظر او کړنه د پاکستان د خارجی سیا ست سره شریکه کړی ، نو تر هغه وخته پوری چی جنرال ضیاوالحق په قدرت او اقتدار کی وه نودغه اسلامی ډلی ټپلی دضیا والحق پوري تړلی دپاکستان په خارجی سیاست کی خپل دخوښی رول لوبول ، تر هغه کوم چی په کال (۲۰۰۴) کی ددی زمینه مساعد شو چی دپاکستان دجمیعت العلما مشر اورهبر« فضل الرحمان» یعنی هغه سړی چی د طا لبا نو سره ډیر نژدی اړیکی درلود دپاکستان په پارلمان کی غړیتوب ترلاسه کړ ، اما وروسته له یو لنډ مودی څخه بیا ډیر نژدی نه چندان لیری وختونو کی د پاکستان په دننه کی سیاسی حالات ځانته بله څیره ونیول کوم چی دولت دیوشمیر اسلامی افراطی ډلو ټپلولکه«جامعه حفزا=Hafsa» - «جامعه فریدیا= Fareedia» اود« لعل مسجد »سره ونتوانید چي دوه اړخیز تعهد او موافقی ته ورسیږی .اوهغه داچی دپاکستان د ملی بحران دآداری مد یر ښاغلی جاوید اقبال په وزیرستان اوبلوجستان کی د پاکستان د ستونزی په لړلو سره په ډاګه خپل

مخا لفت  ددغو افراطی ډلو ټپلو سره بیان او دهرډول تعهد او دوه اړخیز توافق څخه ډډه وکړ او دبلی خوا څخه د پاکستان دداخلی وزیر ښاغلی  آفتاب شیر پاو د پاکستان  دنژدی انتخاباتو دمودی درا رسید و په مناسبت  ځیل مخالفت  ددغو ډلو سره  هم ښکاره کړ او ونه ِغوښتل چی ددوی سره پروتوکول لاس لیک شی .

دطالبانو دجنبش یا دتحریک په مینځ راتلو سره  په پاکستان کی  دوه  ډیر پیژندل شوی اسلامی افراطیان خپل بیل اومستقل لړ لید  ښکاره کړل. یو ددی دوو ګروپونو څخه  هغه **سنی مذهب افراطی ډلی اوټپلی** (دیو بندی/ وهابی ) وه کوم چی دهغوی هد ف د پاکستان دهیواد دټولو نهادونو  اسلامی کیدل او په ټول پاکستان کی  دشریعت  احکام  او مقرارت دی  با ید پلی شی او په بل اړخ  کی  دهغوی  نه ستړی  کیدونکی شخړه د شیعه  مذهبو پا کستا نیا نو په وړاندی سره پیل شو کوم چی په پاکستان کی د نفوذ خاوندان دی .

دپاکستان (سپاه صحابه «دمحمد د پلوی  پوځ  په نوم » چی د حق نواز جتنګوی « Haq Nawaz Jhangvi»  پواسطه سره رامینځته شو، د جمیعت العلما اسلام  دریس  معاون  چی په کال (۱۹۸۵) کی دجاهنګ په ښار کی چی اکثر خلک  یی  شیعه   مذهب دی سر را اوچت  کړ ، سپاه صحا به  اولشکر جا نګاوی د دیوبندی د مکتب پیروان  په ګډه سره دباریلبی  (Barelvi ) مکتب  په  خلاف  په  مبارزه پیل کړ  او  هغوی  یی داسی تعریف  کړ چی دوی خپل اړیکی یی دخالص اسلام  څخه  شکولی دی او  هغوی  یی د نا مسلمان په نوم سره ونومول همدارنګه  د ملت اسلام تر نوم لاندی  په پاکستان کی یو لوی تجزیه طلب  جنبش سر راپورته کړاو دپاکستان په سیاسیی ډګر کی  دانتخاباتو دلاری ستر نقش ولوبول ، دسپاه صحابه  رهبران د پاکستان په  جنرال  اسامبلی  کی  چوکی (لکه اعظم طارق چی څلورځلی دپاکستان په جنرال اسامبله کی غړیتوب درلود) تر لاسه  کړل دغه سنی مذهب ګروپ  په پنجاب  اود کراچي په ښار کی  ډیر  پراخ نفوذ  او  قدرت  لری ، دوی یوځل بیا په داګه کړ چی  شیعه مذهبان  مسلمانان نه دی  او  لازم  نه بولی  چی  په  پاکستان کی نفوذ ولری .دغه سنی مذهب سازمان  په ډیر لافو اوپټاقو سره داسی   بیانول چی مونږ دپنجاب په (۳۴) سیمو  او  ناحیو  کی تقریباً (۵۰۰)شعبی اوادارلی لرو چی دهغو مجموعی غړی   په پاکستان کی تر سل زره راجستر کړ شوی  کارګرانو پوری رسیږی اوهغونور«اولس »شعبی او څانګی په عربی  آمارات، سعودی عرب وبنګله دیش، کانادا اوپه انګلستان کی په کار بخت دی    کوم چی دغه ټول غړی  په  پاکستان  کی دهر ډول کار اوفعالیت  توان او قدرت لری  اوهر څه چی وغواړی هغه ته لاس رسی لرلی شی .

**په پاکستان کی دوهمه افراطی اسلامی ډلی ټپلی  عبارت دی له** :  هغه  ګروپ   اسلامی افراطیانوکوم چی غواړی په پاکستان کی اسلامی خلافت رامینځته کړی اودوی د نړیوال جها د یا نو دغورځنګ یا د سازمان یوه څانګه دی ،او د دوی هلی ځلی په پاکستان کی د اسلامی خلافت داصولو سره سم  د یو دولت  (a theocracy) مینځ ته راوړل دی .

له دغه توضیحاتو څخه یو شی چی ترلاسه کیږی هغه دادی چی په پاکستان کی د مذهبی احزابوکثرت لیدل کیږی ،درارسیدلی راپورونوپربنیاد اوس په پاکستان کی نژدی (۲۴۵) مذهبی حزبونه فعالیت کوی چی د دی احزابو له جملی څخه ( ۲۱۵) پارټی خپل سیمینارونه لری ، (۱۰۴) مذهبی خزبونه پر جهادی فعالیتونو باندی ټینګار کوی ، (۸۲) حزبونه یی جدایی طلب (۲۰) یی تبلیغی او موعظوی دندی تر سره کوی (۲۸) یی په سیاسیی روند کی برخه اخلی (۲۲) نور یی مذهبی سخت دریځ حزبونه دی چی په پاکستان کی د اسلامی خلافت اویا دسنی مذهب دولت دتاسیس په لټه کی دی .په پاکستان کی دمذهبی افراطی ډلو ټبلو په مینځ کی ډیر ګرم اوډیر شخړیز بحثونه او خبری اتری روان دی کوم چی هریو ددغو مذهبی احزابو غوښتنه دادی چی پاکستان کی د خپلی خوښی مذهبی حکومت رامینځ ته کړی ، نو په دی بنیاد سره د پاکستان شیعه مذهبو هم دخپل هیلوپه نظر کی نیولو سره هم غواړی چی دخپل طریقت دپلویانو په ملا تړ سره شیعه مذهب دولت جوړکړی چی یو له دغه شیعه مذهب اسلامی احزابو څخه د پاکستان تحریک جعفری یا دفقی جعفری پلویان دی ، چی د سپاه محمدی سره کوم چی یوسنی مذهب ګروپ دی تل په شخړه اوعدوات کی دی ، دپاکستان دفقی جعفری سازمان دایران له طرفه ملاتړ کیږی اودغه ګروپ خلک له یوسره سره تجزیه غوښتونکی ډلی دی .

تقریباً له دوه لسیزو څخه را په دی خوا د پا کستان شما لی علاقی اوسیمی د تجزیه طلبی په اورکی سوزي اوپه دی اخرو کلونو کی داهل تشیع اود اهل سنی د شخړو کجه ډیرلوړتللی کوم چی یوائی په کال (۲۰۰۵)کی سل نفرپاکستانیان خپل ژوند دلاسه ورکړ اوډیری نور ټپیا ن شول ، او دخلکو شتمنی او مالونه کوم چی دهغو قیمت په میلونونو روپیي سره تخمین کیږی یا لوټ شو اویا د خاوری سره خاوری شول ، او هغه لاڅه چی ددی خشونت له امله په پاکستان کی داوږدی مودی دپاره اجتماعی همغاړیتوب ته هم ډیر ضرر ورسول شو.

دفدرالی پاکستان قبایلی سیمی داسلامی ډولوو طالبانو دپیژندنی اود شهرت د ترویج اود «اوسا ما بن لادن» او دالقاعدی دغړو اودهغو درهبرانو د پټ ځا یونو د پاره ډیر مصون اوخوندی ځای بلل کید ل یا بلل کیږی یعنی هغسی یو ځای کوم چی د اسلامی افراطیانونفوذ په نوموړی ساحه کی دهر ورځ په تیریدو سره زیا تید ل ،نو له دی وجهی څخه په کال (۲۰۰۱) کی داسلامی افراطیانو دزیاتیدو دمخنیوی اویا دهغو سره د مقابلی په منظور د پاکستان جمهورریس جنرال مشرف سیمی ته دامریکی د متحده ایالاتو دډادګیرنی دپاره (۸۰۰۰۰) تازه دم پاکستانی سرتیری ولیږل چی سیمه تر خپل کنترول لاندی ونیسی اوپه ضمن کی د پاکستان په دننه کی د «اوسامه بن لادن »دپاره مخفی ګاه هم چمتو کړ یعنی په اصطلاح سره په یو تیرسره دوه مرغی وویشت ،. اما له دی نه بی خبر چی دغه جکړه دپاکستان دپاره ډیر زیات ګران تمام شو اوهغه داچی د پاکستان په

سلونو سربازانو خپل ژوند دلاسه ورکړل اوپه عین زمان کی دقبا یلو په سیمه کی زیات بی گناه خلکو خپل سر او مال دلاسه ورکړ چی په پا یله کی د هغه ځای د خلکو کرکه دپاکستان ددولت په مقابل کی راوپاریدل اوهغو هم د پاکستان له دولت څخه دغچ اخیستلو په نیت اسلامی افراطیانو ته په سیمه کی ځای ورکړ اود هغو څخه خپلي بشپړ ملاتړ اعلان کړل .کوم چی داپخپله دپاکستان ددولت دکمزور ه کیدو زمینه برابرکړ. او ددی جگړی له امله په سیمه کی دوه مهم موضوع رامینځته شو چی عبارت دی له :

لمړی : له هغه وخته چی سیمی ته پا کستا نی سرتیری داخل شوی بیا لاتر اوسه پوری د پاکستان دولت ونتوانیدل چی په منطقه کی آرامی راوړی او یا د هغه سیمی شورشیان مطیع اویا چُپ کړی ، دوهم : شورشیانو ته داموقع مساعد شو چی خپل اسلامی افراط گرایی عملیاتونو ته دوام ورکړی یعنی هغه رنگ عملیاتونو ته کوم چی دپاکستان ددولت په پرتله په سیمه کی ډیر ځواکمن او د پاکستا ن دولت ونشو کړی چی هغوی ته یعنی شورشیانو ته ماتی ورکړی . دبلی خوا څخه دوخت په تیریدو سره دقبایل دسیمو خلکو کله چی دمشرف کمزورتیا ولیدل خپل بی اعتنای د پاکستان ددولت په وړاندی نه یوائی داچی ښکاره نه کړ بلکه د دولت هیڅ غوښتنی ته پام وانړول ، او دهغه ځای اسلامی افراطیانو دخپل اسلام گرایی فعالیتونو لمن ترمرکزپوری وغځول لکه د«جامعه حفاظ» د مدرسی زده کونکی په اسلام آبادکی دلعل مسجد یوه برخه ترخپل ولکی لاندی راوست اوپه دی توگه سره داسلامگرایانو اوددولتی خلکو ترمینځ دشخړی فضا یو څه سوړ شو اویا دا چی دواړه خوا په یو بن بست سره داخل شو چی دا پخبله داسلام گرایانو د بریالیتوب څخه استاذی توب کوی .

دوه :قبا یلی توب :لکه چی مومخکی یاده کړقبایلی سیمه دخپل جغرافیوی موقیعت له مخی داسی لوړاو ژوری لری او د هغه ځای خلک او بیا په ځا نگړی بڼه سره دشورشیانو دپاره نه یوائی چی ښه پټ ځایونه دی بلکه دهغو د پاره د یو خوندی سنگر حیثیت هم لری ، اوهغه داچی جنرال مشرف اودهغه پوځ ونتوانید چی له سیمی څخه شورشیا ن اوباسی په قبا یلی سیمو کی بیا په ځا نگړی توگه خپله وزیرستان داسی سیمه دی چی هلته هر پردی ترڅو چی دهغه سیمی خلک ورسره مرسته ونکړی نشی اوسیدلی گرچه جنرال مشرف دسپتمبر په میاشت کال (۲۰۰۶) کی دوزیر دقوم سره معامله اوجوړ جاړی اوهم دشب گردی قیود وضع کړ کوم چی که وشی کړی سیمه آرامه کړی اما نه داچی سیمه آرامه نشول بلکه لاتراوسه په هغو سیمو کی جنگ روانه دی او په سلونو خلک دطالبانو اود پاکستان د سرتیرو په جنگ کی هره ورځ مری د پاکستان د دولت د پاره لویه سرخوړی دادی چی په نوموړی سیمه کی پاکستا نیان د پاکستان ددولت په ضد نه جنگیړی بلکه هلته نورخارجي شورشیان لکه چیچینان،اذبکان دمراکو شبهه نظامیان ،الجزایریان او ډیری نور خلک دی چی اوږه په اوږه دپاکستان

پرضد جګړه کوی دهغه ځای ځا یی خلک داسی وایی چی مونږ د خپل امنیت د ساتلو دپاره دولتی ځواک په لاس کی نه لرو اویا داچی زمونږ امنیت دپاکستان دولت نه نیسی یا داچی نیولی نشی اوداځکه چی زمونږ امنیت د پردی ملیشو او شورشیانو په واسطه سره خړپړ کیږی . د پام وړ خبره دادی چی قبا یلی خلک داسی ادعا کوی چی مسول کسان کوم چی دامنیتی قوتونو سره جنګیږی هغه د محل خلک نه دی بلکه ټول خارجیان دی . اوبیا په ځانګړی توګه سره دغه خارجیان ازبکان دی یعنی هغه ازبکان کوم چی وروسته دامریکی دتجاوز څخه پر افغانستان باندی ددغه سیمی پښتانه دغو ازبکان دمیلمه په صفت ومنل اوهغو ته ځای ورکړل . مګر دغه ازبکان محلی قبایل خپل قرار ګاه ته راوړل اوپه هغه زیرزمینیو کی چی هغوی جوړ کړی وه دغه محلی قبا یل یی د برمته په توګه ساتل کوم چی په لمړیو مراحلوکی تقریباً (۲۰۰) قبا یلی خلک یی په همدغه تر ځمکی لاندی حجرو کی بندی اویا زندانی کړل، اوهمدغه ازبکان پردغه قبایلی بندیانو باندی جوش کړی اوبه پا شول ، کوم چی همدغه اسلامی افراطی ا زبکان د خپل غیر انسانی کړنو له امله د محلی قبایلو کرکه اود ښمنی تر لاسه کړل او قبا یلی خلکو کله چی ددوی سره نژدی شو اودهغو پټ ځایونه له نژدی څخه ولیدل ،په دی پوه شو چی دوی ډیر فضول اوبد کار خلک دی اویو دبل سره لواطت کوی او له هیڅ غیر انسانی فعالیتونو څخه لاس نه اخلي د بلی خوا څخه کله چی د پا کستان پوځ ددوی پر پټ خایونو باندی دشپی له خوا یرغل وکړل ، د خپل سترګولید لی حال داسی څرګندوی : دغه ازبکان دځناور غوښه خوری او پخپل پټ ځایونو کی لوڅ او بربنډ ښځینه عکسونه ګوری کله چی دهغوی په مخفی ګاه کی دځناوردغوښو کانسرب قطی اوکسیتونه تر لاسه کوی . او دهمدی شواهد و په لید و سره د پاکستان پوځ په دی لټه کی ولویږی چی په قبایلی سیمو د آزبکا نو ددی اعمال اوکړنو پر ضد د هغه سیمی خلک راوپاروی اوبه عین وخت کی خلکو ته ووایی چی مونږ دتاسی دمصونیت او دامنیت دپاره دلته راغلی یو اود تا سو سره مرسته کوو او له تاسو څخه هم غواړو چی دغه آزبکان له خپل سیمی څخه وباسی دپاکستان پوځ له محلی خلکو څخه خپل دغه غوښتنی دهغه موافقی پر بنیاد چی دسپتمبر دمیاشت کال (۲۰۰۶) کی دقبایلو سره لاس لیک کړی وه کول . داپریل په میاشت کال (۲۰۰۷) کی د قبا یلو مشران په جنوبی وزیرستان کی سره غونده وکړل اودازبکو په وړاندی سره په هغه ولایت کی دجهاد غږ پورته کړل، او په دی غونده کی داسی پریکړه وشو چی هر هغه کس چی دازبکو پر ضد په دغه جهاد کی ونډه نه اخلی دهغه کور به وسځول شی ، داهغه څه وه چی د پا کستان دولت خوشحا ل شو او په منطقه کی دغه دقبایلو پریکړی دځپل ښه سیاست لاسته راوړنه وبلل ، اما یوشی چی تراوسه لا نهدی روښانه هغه دادی چی آیا دهغه محل قبایلی خلکو داژبکانو اویا دنورو پردی افراطی اسلامی ډلو ټپلو سره جنګیږی اویا نه ؟ اویا داچی د پاکستان دولت په منطقه کی دکنترول اودځارنی توان تر لاسه کړی اویا نه ؟ ایا دپاکستان دولت پر افغانی

طالبانو با ندی لاس بری لری اویا ښنګه؟ دا هغه سوالونه دی کوم چی دهغو ځوابونه لا تراوسه نه دی ورکړل شوی .

دری : قومی ناسیونالیزم : دریم ګروپ خلکو کوم چی د پا کستان د دولت په کمزورتیا کی ونډه لری هغه په پاکستان کی دقومی ناسیونالیزم دغورځنګ کړنی دی چی دپاکستان په ټولو برخو اوبیا په ځانګړی بنه د په بلوچستا ن کی دغه ناسیونالیستی با ورونه او تحرکات ډ یر زیا ت ترسترګو کیږی ، لکه چی دمارچ دمیاشتی په « ۲۷» کال« ۲۰۰۷» کی د بیلګی په بنه شبهه نظا میان د برق یوه برج تخریب اوپرمیلونونو خلکو با ندی دبرق جریان قطع کړل ،دغه حمله په واقیعت کی د شورشیا نو دفعالیت یو عرضی ډول یا دشورشی فعالیتونو نښی اونښانی دی کوم چی په بلوچستان کی بلوچ ناسیونا لیستا ن دغسی کړنی یا تخریبات په زیربنا یی برخو کی له کال (۲۰۰۲) څخه راهیسی ترسره کوی .اوبیا به ځانګړی ډول هغوی غواړی چی د( Sui Gas) فابریکه او یو پُل چی (Kari-Dor) ته نژدی پروت دی هغه تخریب کړی .د دغو زیربنا یی نهادونو په له مینځه وړلو کی طبعاً د پاکستان اقتصادی اړخ ته ستر تاوان رسول دی اوداپخپله داسی رابښيي چی دبلوچ ناسیونالیستان غواړی د پاکستان اقتصاد ته ستر تاوان ورسوی اوداځکه چی دپاکستان اقتصادی پرمختګ زیاتردبلوچستان په شتمنی اوترځمکی لاندی زیرمو لکه (دګاز) په ذخیره پوری ډیر اړین دی هغه دګاز «ډیری زیرمه» کوم چی د ستراتیژیکی موقیعت په لحاظ داسی برخه کی موقیعت لری چی «مرکزی ، جنوبی ، سهیلی ختیځ او ختیځ آسیا په یو خوا اومرکزی آسیا ، د پارس خلیج او مینځی ختیځ له بلی خوا » لکه دیو پُل په بنه یود بل سره نښلوی . په دغه ولایت کی یوه ډیر مهم تجارتی بندر هم پروت دی کوم چی د چینا یی کارپوها نو په واسطه سره جوړ شوی چی چین او پاکستان ددغی بند ر له لاری خپل تجارتی راکړی ورکړی تر سره کوي اوله همدی امله پاکستان ډیر په تشویش کی دی چی دغه بلوچی ناسینالیستان به دطالبانو سره نه چی لاس یو کړی او دپا کستان سره په مخا لفت ددی ولایت ټول طبعی زیرمی سره دګاز او دګوادر بندر ترلاسه کړی اودپاکستان اقتصاد دخاوری سره خاوری کړی ؟ په بلوچستان کی دغه ناسیونالیستی ګروپونه «د نواب خیر بخ ، نواب بوګتی اود نواب بکش » تر نامه لاندی خپل نه ستړی کیدونکی هلی ځلی د پا کستان پرضد په مخ کی بیایی. اوله همدی سببه دی چی پاکستان داسی پلان اوطرح لری چی څنګه کولای شی دبلوچستان خلک اوبیا په ځانګړی بنه د بلوچ نا سیونالسیتا ن تر خپل ولکی لاندی راولی – حال داچی په بلوچستان کی خلک له یوه سره نه غواړی چی دپاکستان ددولت تر سیوری لاندی یوه شیبه هم سبا کړی اوهلته دآزادی خواهی غږاوس ډیر اوچت دی اوهیڅوک نشی کړی چی دغه غږ او آواز چُپ کړی .

بلوچستان داسلامیزم یا د«اسلامی افراط ګرایی» تاریخ لری ، دافغانستان دجهاد په

وخت کی دپاکستان حکومت افغانستان سرحد ته نژدی دبلوچستان په ولایت کی مدرسی جوړ کړ او دهغه ځای ځوانا نی راوهڅول چی په دغه مدرسو کی د شوروی اتحاد دسرتیرو پرضد چی افغانستان یی تر خپل ولکی یا اشغال لاندی راوستی وجنگیږی، په بلوچستان کی [ په کال (۱۹۵۰) کی یواځی اوه مدرسی وجود لرل ، اما په کال «۲۰۰۳» کی ددغو مدرسو شمیر له زرو (۱۰۰۰) څخه واغوښتل ] د پا یلی په توګه په دغه ولایت کی یوشمیر نورخړپړتیا وی هم په سترګو کیږی چی دهغه ریښی په تجزیه طلبی کی انغښتی دی لکه ( دسنی مذهبو دښمنی د شیعه مذهبو سره ، د نوموړی ولایت ګاونډیتوب دایران سره ).دافغان دمهاجرینو لوی کمپ ، دولایت په دننه کی قومی ناراض بلوچا ن یعنی هغو بلوچانو کوم چی دپاکستان د دولت په وړاند کرکه لری چی دپاکستان دولت ولی دهغوی په ولایت کی خړپړتیا رامینځ ته کویدبلی خواڅخه همدارنګه ددی ولایت بلوچان دپاکستان ددولت په وړاندی د اکبربګتی دترور په اړین چی داګوست میاشت کال ( ۲۰۰۶) دمشرف ددولت په مداخله او دهغه ځای دشورشیا نو په واسطه سره ترسره شو خپل نارضایتی اوکرکه څرګندوی . په بله موضوع چی دهغه یادونه دلته ضرورګڼل کیږی هغه دا دی چی د پا کستان دولت دبلو چ د ناسونیالیزم دڅپی په رالوړید و اوزیا تیدو سره ډیر اندیښمن اوپه تشویش کی ولویدلی دی .

**فرهنګی او قومی اختلافات** : پاکستان له کا ل (۱۹۴۷) څخه یعنی له خپل زیږید و څخه چی د اسلام په نوم د انګلستا ن ددولت په هلو ځلو اود «علی جناح » په سکتاریستی آند او کوشش سره له هند څخه بیلیږی لا تراوسه پوری په قومی اوژبنی اوفرهنګی لحاظ سره د هغه خلک پخپل مینځ کی سره اختلافات لری کوم چی دغه قومی ایتنیکی ګروپونه عبیارت دی له : ۱- پنجابی .ـ ۲- پښتون .ـ ۳- سندی ۴- مهاجر . ـ ۵ بلوچ -۶- هند کوانس - ۷- کریستین دغه (۷) ډول قومی ،ژبنی اومذهبی ګروپونه سره تفاوتونه او اختلافات لری اوهمدغه اختلافات د دی سبب شوی چی په پاکستان کی پنجابیان دخپل زیات شمیر په لحاظ پرنورقومی ګروپونه باند ی خپل تسلط جاری وسا تی کوم چی د نورو قومی ګروپونو دمخا لفت زمینه پراقتصاد باندی دپنجابی اینیکی ګروپ دتسلط له امله را پیدا شی اویا داچی بلوچان باید دپنجابیانوسره اختلاف ولری اوداځکه چی دپاکستان اقتصادی شاه رګ دبلوچستان پر طبعی زیرمو اوشتمنی پوری تړل شوی یعنی د بلوچستان ټول عواید دپنجا بیا نو په جیب کی ولویږی ، نه داچی د بلوچستان دخلکو دهوسا ژوند په رامینځته کیدو کی ولګیږی چی داپخبله د پنجابیا نو پر ضد د بلوچا نو کرکه را پاریږی اوله همدی کبله دی چی په بلوچیستان کی نا سیونالیستی څپی دهرورځ په تیریدو سره زیاتیږی . دبلی خوا څخه دغه اوه ایتنیکی ډلی دژبی ، مذهب ، دود ، تاریخی بس منظر ، فرهنګ ، بیالوژیکی اوفزیکی جوړښتونو اود جغرافیوی ساحی او سیمی په نظرکی نیولو سره یود بل څخه بشپړ توپیر او تفاوتونه لری نو دهمدی

موضوعاتو په نظر کی نیولو سره په ډاګه ویلی شوچی پاکستان یو هیموجینس یا یو لاس ملت نه دی اوهیڅکله به یو واحد ملت نشی ، پاکستا ن یوائی اویوائی داسلام ترشعار لاندی له هند څخه بیل شوی اود افغانستان خمکی کوم چی د انګریزانو پواسطه سره ددیورند دتحمیلی کرښی په ایستلو سره پیل شوی او اوس پنجابی واکدارانو خپل ځان دهغه ملک مالک ګڼی اوداسی ادعا کوی چی دغه قلمرو مونږ ته له پلاره (انګریزانو) څخه په میراث رسیدلی دغه زړه ګرمی دی تر یو وخته وساتی اولیری نه دی کوم چی پښتانه به یوه ورځ دهغو ژامه به مات نکړی او خپل ځمکی دهغو دتصرف حخه خلاص نکړی لمر په دوه ګوتو نه پټیږی او پښتا نه به تر ایده زلیل اوخوار ملت به پاتي نشي.

**یاداشت** : مونږ تر دغه ځایه پوری دپاکستان په ټولو ستونزو اوپرابلمونو باندی یوه لنډه کتنی وکړ اوپه دی پوه شو چی دغه هیواد نشی کولای چی ملت سازی وکړی اویا دیو واحد ملت په بڼه ځان نړیوالو ته معرفی کړی ، دغه سیمه کوم چی دپاکستان په نوم سره یادیږی له هند څخه داسلام اوداسلامیت په شعار سره رامینځته شوی کوم چی دهغه اتباع اوبیا په خصوصی بڼی سره پنجابیان دحقیقی اسلام په احکامواو روایاتو باندی هم نه پوهیږی اوهغه څه اسلامی روشونه کوم چی اوس په پاکستان کی تر سترګو کیږی هغه هم دپښتنو دځنی اسلامیستی ملایانو له برکته دی لکه دقاضی حسین ، مولانا سمیع الحق او ،،،،، ځنی نور بیغیرت اوچوپړ افغا نی پاکستا نی ډول ملایان او یا دغه افغانی شرمید لی طالبان چی د انګریز دبرګټو ملیشه دی اودپیسو په بد ل کی چی د(آی اس اي ) څخه اخلی خپل وطن او خپل کور ورانوی لعنت دی په جهالت شی .

## ۲- د دیورند د تحمیلی کرښی د دواړوخوا و د خلکو او بیا په ځا نګړی بڼی سره دروشنفکرانو دریځ :

داخو ټولو ته لکه دلمر دوړانګی په څیر روښا نه دی چی انګریزی استعماردافغا نستان دخاوری په دننه کی پری واچول اوددی هیواد یوه برخه یی د نامعلوم مودی لپاره ترخپل ولکی لاندی راوستل اوهغه داچی د دغه استعماری ځواک کوم چی دهغه لمر دهغی په استعماری اوترولکی لاندی قلمرو کی نه پریوتل ، نو دغه کرغیړن او ناروا استعماری ځواک ددی د پاره چي دهند نیمه وچه تر زیات مودی دپاره تر خپل تسلط لاندی وسا تی نود تزاری روسیی له ډاره په دی لټه کی وشوچی دافغانستان دخمکی یوه برخه د حایل (بفر) منطقی په بڼه بیل اوتر خپل تسلط لاندی راوړی ترڅو چی په ارامی سره پرهند با ندی حکمرانی وکړی ،نوپه همدی بنیاد سره په کال (۱۸۹۳) کی د سرهنری ما رتیمرد یورند(sir Mortimer Durand) دهند بریتانیوی د با ند نی چارو دوزیر اودافغانستان دامیر عبدالرحمان خان ترمینځ اجباراً او دپیسو په تطمیع کولو سره یوتړون لاس لیک شو کوم چی دافغانستان یوه برخه دافغانستان له قلمرو څخه دیو کرښی په ویستلو سره چی د دیورند د تحمیلی کرښی په نا مه سره یادیږی بیل اودهند

بر یتا نوی تر ولکی لاندی پریوت . یعنی دغه تحمیلی کرښه په داسی یو خت کی لاس لیک کیږی چی خپله امیرعبدالرحمان خان دافغانستان یو مستقل خپلواک نه دی بلکه دانګریزی استعمار تر ولکی لاندی په افغانستان کی واک چلول اودافغانستان خلک اصلاً ددغه تحمیلی کرښی سره له همغه لمړیو ورځوځخه بیا تراوسه پوری موافقه نه دی کړی اوپه هیڅ توګه سره نه غواړی چی خپل خاوره بل چا ته ورکړی ، لیری نه ځو اوهغه داچی سردار شاه محمود خان د خپل صدارت په موده کی ملګرو ملتونو ته دیو لیک په لیږلو سره اودخپل استا ذی په وینا سره په ډاګه کړ چی دافغانستا ن خلک په هیڅ بڼی سره نه غواړی چی دافغنستان خاوره دپردی ترولکی لاندی اووسی ، نو په دی لحاظ مونږ دغه ددیورند تحمیلی کرښه نه منو او دخپل خاوری دبیرته ترلاسه کولو دپاره به له هیڅ ډول هڅی اواند ځخه به تر شا نشو ،همدارنګه سردار محمد داودخان دخپل صدارت په وخت کی نه یوائی داچی دغه تحمیلی خط یی نه دی منلی بلکه دپاکستا ن پر ضد د سفر بری امر ورکړ چی پاکستان ته وښیی چی ځما ځمکی نشی نیولی مګر افسوس چی ظاهرشاه هغه یعنی داود خان یی له دغه عزم ځخه منصرف کړ، یا داچی جنرال ضیا والحق کله چي دتره کی د زمامداری په وخت کی په یوه حسن نیت سفر سره کابل ته راغی او د پغمان په تپه کی چی د تره کی له خوا په رسمی بڼی سره هغه یعنی جنرال ضیا والحق ته میلمستیا چمتو شوی وه ،ضیاوالحق په دی ناسته کی ، تره کی دافغانستان جمهور ریس اودخلکو ددموکراتیک ګوند عمومی منشی ته وویل:که تاسی ددیورند کرښه دافغانستان اود پاکستان تر مینځ سرحدی رسمی کرښه ومنی زمونږ دولت اوزمونږ خلک نه یوائی داچی ستاسی دولت په رسیمت به وپیژنزی بلکه دتاسو سره به هر راز مرستی اوکمک هم وکړی ، تره کی دهغه په ځواب کی داسی وویل : د دیورند تحمیلی کرښه داسی زهر لرونکی ناسوری خنجر دی چی په (۱۹) پیړی کی دافغانانو په خیټه کی ننه ایستل شوی دی او مونږ هیڅکله دغه توره ننګین کرښه په رسمیت نه دی پیژندلی اوتر څو چی په دی سیمه کی یوه افغان ژوندي اوسی دغه کرښه به ونه منی اوهیکله اوبه په ډانګ سره نه بیلیږی دخط هغی خوا زمونږ ځمکی او دهغه سیمی خلک زمونږ سکنی ورونه دي ، نو کله چی جنرال ضیاوالحق دتره کی داخبره واورید ډیرسراسیمه شو اوکله چی بیرته اسلام آباد ته لاړ نو هلته خا ین ګلبدین او احمد شاه مسعود ته یوه یوه قبضه تفنګچی ورکړ او دمجاهد ینو کمپونه د دیورند دکرښی په هغه غاړه جوړ کړ او دغه تښتید لی وطنفروشا نو ته نظامی زده کړی ورکړ او هغو ته وویل چی لاړ شی کابل ته اور پوری کړی . یاداچی د «ببرک کارمل »په وخت کی روسانو کارمل ته وویل چی مونږ غواړو دافغانستان اود پاکستنا ن ترمینځ ددیورند دخط په امتداد کی د خاردار سیم دیوال لوړ کړو ، ترڅو چی د هغه غاړی ځخه دشمن دی خواته تیر نشی ، اما کارمل دهغو په ځواب کی وویل چی دخاردار سیم دیوال ددغه تحمیلی خط په اوږدوالی کی په دی مفهوم دی چی مونږ دا خط په رسیمیت باندی پیژنو نو په دی لحاظ نه یوائی زه

دافغانستان دجمهورریس اوددمو کراتیک گوند دمنشی په صفت نه غواړم بلکه دافغانستان ټول خلک نه غواړی چی دا خط وپیژندل شی او موږ قطعاً نه غواړو چی ددی کرښی په امتداد سره تاسی دخاردار سیم دیوال پورته کړی ، یا داچی ټولو ته معلوم دی چی محترم شهید داکتر نجیب الله ځیل ژوند دهمدغی تحمیلی کرښی د نه لاس لیک کولو له امله دلاسه ورکړ، اوبالاخره نه هم کرزی ابداً دی ته حاضرنشو چی داخط دپاکستان اود افغانستان ترمینځ درسمی سرحد په بڼه وپیژنی.
بی ویلو دی پا تی نشی چی د ابدالی دولت په زما مداری کی د افغانستان ډیر مشهور ولایتونه او ښارونه ، هرات - قندهار - کابل او پیښور وه یا په بل عبارت (۱۱۹) کاله د مخه ددیورند د کرښی دایستلو څخه مخکی هغه غاړی تر اټکه پوری د افغانستان قلمرووه او ترابده به قلمرواووسی داچی استعمارزموږ خاوره ویشلی دی دا دزور کاروه اوهرکله چی موږددغه روان تپل شوی جګړی څخه کوم چی هغه هم د استعمار دبرګتی یعنی دپنجابی جنرالانو له خوا زموږ د نا پوه افغانی طا لبا نو په مټ سره ترسره کیږی اخر به خلاص شو اوپه افغانستان کی به یو د ملی وحد ت دولت جوړ شی کوم چی پاکستان نه غواړی داسی یو دولت په افغانستان کی رامینځته شی نو هغه وخت به دخپل دهغه غاړی دورونیو سره په زور خپل خمکی تر لاسه کړو اوداستعما رد برګتی یعنی د پاکستان اوربوز به په خاوری ومنډو . داچی ځنی افغانی سکتاریستان او په پیسو سره اخیستل شوی افغانی لیکوال ، ژورنا لیستان ، پیژند ل شوی اجیران اود پاکستا ن باړه خور جهادیا ن ، قوماندانان ، او دافغانستان د یوالی دشمنان کله ناکله پخپلو مقالو ، مرکو او یا دمید یا دلاری داسی څرګندونه کوی چی دافغا نستان اود پاکستان تر مینځ دغه اوسنی تحمیلی کرښه رسمی سرحد ی کرښه دی اود افغانستان دولت با ید دا کرښه په رسمیت وپیژنی چی موږ ددغه روان جګړی څخه خلاص شو دا نظریات اود پنجا بیانو دخواستی سره په پوره مطا بقت کی داسی مفهوم ورکوی چی دوی له یوی خوا افغان نه دی اودبلی خوا له یو سره سکتاریستان دی کوم چی د دښمن په ژرنده کی اوبه سموی ، دوی لا تر اوسه نه پوهیږی چی اسرایل فلسطین خاوره په زوره سره تر خپل ولکی لاندی راوستی اویا داچی دامریکی متحده ایالات زموږ سیمی ته لشکر کشی کوی او وایی چی دلته زموږ ملی ګټی پروت دی اویا دا چی موږ د خپل خا وری د امنیت او دخوندی ساتلو دپاره دلته راغلی یوو ، نو دحیرانتیا خبره دلته دادی چی زموږ دغه سکتاریست او بیلتون غوښتونکی پاکستا نی ډول نانځکی او جاسوس که پښتون دی ، که تاجک دی ، که هزاره دی .اوکه هر وطنفروش افغان دی ، په دی باندی دی سر خلاص کړی چی دافغانستان اصیل اولس به هیڅکله خپل خاوره نوروته به ورنکړی اوهیحکله به دغه ننګین اوتحمیلی کرښه په رسمیت ونه پیژنی ،اودتاسو دغه ننګین نظربه دخاوری سره خاوری شی ، داکوم عقل منی چی یوهیو اد خپل شتمنی اوبیا په ځانګړی بڼی سره دبحر لار (دابدالی دولت په وخت کی دګوادر بندر په بلوچستان کی دهغه دولت تجارتی

بندر وه ) په دی سا ده گی سره دلاسه ورکړی ، یوه بله خبره چی د لته دهغه یادونه ضرور گڼل کیږی هغه دادی چی پا کستانیان او زمونږ ځنی افغانی تجزیه غوښتونکی ډلی ټپلی داسی وایی چی دډیورند د کرښی د هغه غاړی پښتا نه ځان افغان نه گڼی لکه چی دوی هم ځانته افغان نه وایی بلکه ځا نته افغانستا نی وایی ،د تا سف ځای دادی چی داسی اند یښنی دهغه چا د ماغزه تراوش دی چي پخپله دخپل وطن په تاریخ نه پوهیږی ، هغه خلک کوم چی ځنی ځنی ځا نته افغان نه وایی نو دهغو فرق دتا کرغیږن سره څه به وی هغه هم تطمیع شوی اوته هم د پنجا بیا نو با ړه خور اوتا لی ځتی یی ، بله خبره داچی دال یحیی کورنی کوم چی دهندوستان ددریدون په سیمه کی دانگریزانو ترڅارنی لاندی پروت وه او کله چی نا درخا ن په واک کی ورسید انگریزانو سره وعده کړی وه چی زه دافغانستان جنوبی برخی له پامه غورځوم اوهغه ته نه ښونځی جوړوم اونه هم په نظامی برخو کی هغوی ته ځای ورکوم اوداځکه چی دا دانگلیس گوډاگی د جنوب دخلکو له تنویر او هوښیاری څخه ډاریده نو په دی بنه هغه هیڅ اراده ونکړ چی دافغانستان په جنوب کی ځنی ثمربخشونکی تاسیسات جوړکړی چی د هغه غاړی پښتا نه هم خپل زړه گرمی ښکاره کړای وای یعنی دال یحی دکورنی سیاست اودپنجا بی حا کما نوسیاست په منطقه کی یو شان ته وه اوهغه هم دانگریز دیکتی او امر وه چی نه په وزیرستان اونه هم دافغانستان په جنوب کی نها دونه اوزیربنای پروژی با ید جوړ شی اوپه دی وجهه سره با ید دغه خلک په تربرمی کی وساتل شی لکه چی همدعسی هم وشو .

څو موده مخکی دافغانستان اوپاکستان دپاره دامریکی د متحده ایالاتو ځانگړی استاذی ښاغلی گروس من وویل : چی د دیورند کرښه د افغانستان اود پاکستا ن تر مینځ نه یواځی داچی د امریکی متحده ایالات دغه خط په رسمیت پیژنی بلکه ډیری نور هیوادونه هم دی چی لکه دامریکي په څیر دغه خط دافغانستان اود پاکستان تر مینځ رسمی سرحد مني . چی خوشبختا نه ددی امریکایی خبره د افغانستان دجمهورریس حامد کرځی دویاند ښاغلی فیضی له خوا په قطعی بنه رد شو او دهغی له خوا داسی په ډاگه شو چی دغه امریکایی مقام دبین المللی اصولو په خلاف زمونږ په داخلی چارو کی لاس وهی چی داپخپله دهغه بی فرهنگی اونا پوهی ښکاره کوي . دغه امریکا یی استاذی ته باید په ډاگه شی چی تاسی هم لیری نه دی چي لکه د نورو امپراتوری یرغلگرو په شان به هم په دی قبرستان کی به ښخ شی اوهغه داچی افغانستان دامپراتورانو دقبرستان په نوم سره نومول شوی دی ، داچی امریکایان دغه تحمیلی خط په رسمیت سره پیژنی هغه ددی دپاره دی چی د پاکستان ددولت ا یجاد دهمدغو چپاولگرو په مټ سره د خپل گټی دترلاسه کولو په منظور ترسره شوی اوهغه داچی پاکستان اصلاً یو هیواد نه دی بلکه دامریکی او بریتانیا یوه نظامی اډه دی چی په دغه منطقه کی جوړه شوی تر څو چی دامپریالیزم گټی په منطقه کی لکه چی اسرایل دامریکی گټه په شرق میانه کی خوندی

ساتی پاکستان دامریکی ګټه دلته هم وساتی .
په هرصورت د افغانستان (۷۰ ) تر (۸۰ ) په سلو کی پښتنا نه خلک او ډیری نورو افغا نی قومونه دغه خط په هیڅ بڼی سره په رسمیت نه دی پیژندلی اونه به هم وپیژنی اوافغانان هیڅ چاته د خپل کور واک نه ورکوی چی دهغو په سرنوشت کی لوبه وکړی امریکا یان دی د خپل ما تی واوره زمونږ پر بام کی دی نه اچوی دا به هغو ته کفایت وکړی چی ونتوانید په دومره مصارف او په دومره مجهز نظامی وسا یلو سره په افغانستان کی بریا لیتوب تر لاسه کړی ، امریکا یا ن لکه دنورو نا می یرغلګرو په څیر دلته په افغانستان کی ما تی وخوړل اوټول نړیې ته معلوم شو چی لمر په دوه ګوتو سره نه پټیږي . اودوی به هم په دغه قبرستان کی لکه نور یرغلګرو به شخ شي.
لایی تراوسه یی ماغذه په قرار نه دی چاچی ماسره وهلی سر په سنګ دی

## ۳- په افغانستان کی د پاکستان ښکاره لاس وهنه اودهغه هیواد غوښتنه:


اوس هرچا ته معلوم دی چي پاکستان دخپل دایجادکړل شوی نیتی څخه لا تر اوسه په ډیربی شرمی او دبین المللی میثاقونو په سرغړونی سره د افغانستان په داخلی چارو کی نه یوائی داچی لاس وهی بلکه عملاْ غواړی چی دغه هیواد بی ثباته کړی او دهغه ټول شتمنی اوفرهنګی هست اوبود یی تاراج اولوټ کړی ، پا کستان له هغه ځا یه څخه چی دهند د نیمی وچی اود افغانستان تر مینځ د انګریزد استعما ری دولت په مټ دهند اودافغانستان دخمکو په غضب کیدو سره دانګلستان د ګټو د تامینولو د پا ره ایجاد شوی دی ، په واقیعت کی دهغه تکوین او هستونه غیرطبعی او ساختګی بڼی لری اودا ځکه چی پاکستان دخپل مصنوعی خلقت څخه لا تر اوسه دهند د نیمی وچي او دافغانستان سره کومه طبعی اوپه رسمیت سره پیژندل شوی سرحد او پولی نه لری ، اوهیڅ عقل باور نه کوی چی هند یا ن او افغا نا ن دخپل ځمکی څخه په ساده ګی سره تیرشی اوبیا خصوصاْ دهغه چا پواسطه سره چي پخپله دانګریز اود امریکی په مټ سره په دغه غضب شوی ځمکه کی پخپل ځان با ندی دپا کستان نوم ایښی دي هغه پاکستان اوهغه پاکستا نیا ن چی هم دکشمیر په محاظ اوهم دافغانستان سره په جګړه کی لکه دخپل انګریزی بادار په څیر دجبهی ترشا ولاړ او په پیسو اوپه تطمیع کولو سره اجیر جګړه مار دجنګ لمړی کرښی ته لیږی . دلته یو سوال پیداکیږی او هغه داچی ایا یو پنجابی دا قدرت اوتوان لری چی دیو دافغان سره وجنګیږی دهغه افغان سره کوم چی دهغه نیکه ګان دتاریخ په اوږدو کی پنجا بیا نو ته ما تی ورکړی اوپرهغو باندی حکومت کړی دی ، یا داچی که چیری دغه افغانی طا لبا ن دخپل توپک خوله دغه دوکه با ز پنجا بیا نو ته واړوی نو په هغه صورت کی دغه پنجا بی به کومه بل الترناتیب به ولری اویا داچی هغه به خپل ځان تینګ کړی ؟ ځواب ساده دی چی یوپنجابی داتوم دبمب په لرلو سره بیاهم دافغان د قهر

اود غضب مخه نشی نیولی ، زه داخبره له ځانه نه کوم ، تاریخ شاهد دی اوهغه داچی انګریز په (۱۹) پیړی کی هم الوتکه درلود ،هم توپک درلود هم بمونه درلود اما افغانانو په تش لاس اوپه لور ، ډنډک او چقمقی ټوپکو سره دری وار انګریز ته ماتی ورکړ چی ټولو ته لکه دلمر په شان روښانه واقیعت دی . دلته یوه ټوکه می را په یاد شو چی هغه ټوکه دلته دتاسو سره شریکه کړم اوهغه داچي [ یوه ورځ ایجیړاګانو «نرښځي » سره په یوه ځای کی راټول شو او پخپلو مینځو کی داسی پریکړه وکړ چی دکاروان لاره به نیسی او د کاروان ټول شتمنی به لوټ کړی نو په همدی نظر دځان سره چمبه «داریا » هم واخیستل اودکاروان په لاره کی کمین ونیول،کله چی کاروان راغی نوددی ایجیړاګانو مشر پرکاروان باندی غږ وکړ چي دیریش؟ ، په دی وخت کی د کاروان سرکرده په ډیر غضب او قهر سره وویل ودریږی ستاسو دایجړاګانو ښځه..... داسی وکوم ، په همدی وخت کی ا یجړاګا نو چمبه راواخیست او وویل : چطور شناختی اغاجان چطور شناختی اغاجان اودهمدی بدلی سره تیت اوبرک شو ] نو دلته پنجا بی دهغه ایجړاګانو ته ورته دی چی غواړی دپښتنو لاره ونیسی .چی داپخپله خوب اوخیال دی اودپاکستان خوشبختی په دی کی دی چی زمونږ خپله افغانان د هغو په چوپړ که دی اما بیغیر د هغه اصلاً پنجابی دا حق نه لری چی افغان ته پورته وګوری .

په دی نژدی وختونو کی دامریکی دهاردورد په پوهنتون کی ځینی محققان او تاریخ پیژندونکی ماهران او لیکوالان وروسته دیولړ تحقیقاتو ډخه داسی پایلی تر لاسه کړ چی پاکستان دافغانستان په وړاندی یو غیر متعارف جګړه پیل کړی دی حال داچی دا خبره نوی نه دی بلکه انګریزی محققان هم څو واری دغه خبره په ډاګه کړی چي پاکستان دافغانستان به داخلی چاروکی لاس وهی او د افغانی طا لبا نو تر شا ولاړ دی او هغوی هڅوی چی په افغانستان کی دجګړی لمن پراخه کړی او خپل وروڼه دپاکستان د منا فعو د پاره په قتل ورسوی تر څو چی افغانستان ونشی کړی چی یوه ملی او مقتد ر دولت اوحکومت جوړکړی اوداځکه چی که په افغانستان کی یودملی وحدت حکومت جوړ شی او افغانستان ددی توان تر لاسه کړی چي خپل خمکی بیرته ترلاسه کړی او دګوادر بندر دخپل تجارتی ما لونودراکړی ورکړی په نیت پکار واچوی نو په هغه وخت کی پاکستان به وجود ونه لری اولکه داوبو په مخ د پوکا نی په ډیربه وچوی او د دی منطقی دجغرافیوی نقشی ډخه تری تم اوورک شی ، نو دهمدی ډار ډخه د دیورند کرښه دپاکستان دژوندی پا تی کیدو د پاره ډیر حیا تی اهمیت لری یعنی دپاکستان ژوند اومرګ ددیورند همدغه تحمیلی کرښی پوری تعلق نیسی .

دپاکستان دښمنی دافغانستان سره څه وخت پیل شو :؟ له هغه وروسته چی د دسامبر میاشت کال «۱۹۴۹» کی دافغانستان پارلمان دانګلیس ددولت سره هغه ټول مخکینی معاهدی او قراداونه فسخ اورد کړ، له همغه نیتی ډخه دپاکستان په بدن کی دمرګ تبه را

پیداشواوپه دی لته کی ولویدل چی باید دافغانستان په تضعیف کی هرڅومره چی وسه یی کیږی هلی ، ځلی وکړی ، په دی وخت کی سردار محمد داود خان کوم چی دافغانستان لمړی او کامل الاختیار وزیر وه دپاکستان پر ضد دپښتنو دازادی بځشونکی بیرق او چټ کړ اودپښتونستان دآزادی او ددعیی غږ پورته کړ هغه غږ کوم چی د پاکستان په خیټه کی د ناسور دخنجر وصف لرل او پاکستان له همدی ډار څخه به دخپل انګریزی بادار دروازی یی ټکول اوهغه ته ژړلی چی څه وکړی ؟، خصوصاً هغه وخت چی داود خان دپاکستان پر ضد په افغانستان کی دسفر بری امر صادر کړ هغه دچا په خبرو په پنجاب او اسلام آباد کی داسی ګونګوسی تر غوږ کیدل چی لیونی سردارپه قهر شوی دی راځی چی وتیښتو.




اما هغه څه چی پرپا کستان باندی لمر راوخوت اودهغه طا لع په اصطلاح سر بر وکړ هغه دشوروی اتحاد اودافغانستان دحزب دموکراتیک خلک ناسم او غلط سیاست وه چی هغه هم دامریکی دپیژندل شوی جاسوس دحفیظالله «امین » هلی ځلی وه چی د افغانستان په قضیه کی دشوروی اتحاد پښه راکش کړهغه څه چی دکارتردمشاوردرژنسکی دکترین وه، کوم چی په افغانستان کی اخوانیان او ملایانو ته دا فرصت مساعد شو چی دشوروی اتحاد په وړاندی په تبلیغات پیل کړی اودافغانستان دیندارو خلکو ته ووایی چی اوس د تاسو دین په خطر کی ولویدلی او باید ددغه سور شوروی سرتیرو په وړاندی جهاد وکړی ، اوپه ضمن کی دپاکستان افراطی اسلامی جنرال ضیاوالحق کوم چی د پاکستان ددولت زمامدار وه هغه ته هم فرصت مساعد شو چی د سردار محمد داود خان خان ددولت څخه مخکی تښتید لی مخالفین لکه ، ګلبدین حکمتیار ، احمدشاه مسعود ، ربانی ، مولوی محمدی ، پیر سید احمد ګیلانی ، مولوی خالص او ځنی نور پاکستانی راشه خور پخپل غیږ کی ونیسی اودهغو سره یوځای دافغانستان ددولت په وړاندی دجهاد شمشیر را

وباسی .اویا داچی دغه جهادی دلي ټپلی دپاکستان په دننه کی دپنجابی حاکمانو پواسطه سره زبون او ، بی وقار او دردروازی نوکران شول یوه ورځ هم سر پر ګریوان ونکړ چی زه څوک یم اودچا اوامر منم اوداځکه چی د هغو څخه افغانی هویت دلاسه تللی وه او یو خادم او دیو رټل شوی وړی تړی ملنګ په څیر کاسه یی ترتخرګ لاندی دپنجابی ددروازی تر شا دیو مړی ډوډی دپاره خپل کاسه وړاندی کول ، نوکه دا خبره تهمت وی ، تاسی را ته ووایی چی داسی کوم لیونی خلک به په نړی کی پیداکیږی چی د پیژندل شوی دښمن په امر سره خپل وطن وران او ویجاړ کړی ، که دوی دکمونیزم له ډاره په جهاد لاس پوری کړ او ځا نته مومن اومسلمان وایی نو ولی داسلام د پیژندل شوی دښمن یعنی یهود سره دفلسطین دداعی د پاره شمشیر نه راباسی ، نه نه داسی نه دی دوی هغه وطنفروش او بی ما یه خلک دی چی ددوی کړنی به تاریخ هیرنکړی اوبل داچی په اصطلاح سره همغه دکمونیست دولت مشر په افغانستان کی له دوی څخه ووغوښتل چی ملی مصالحه ومنی او ټوپک پرځمکه کیږدی راځی چی په قدرت سره شریکه شو ، مګر دا دضیاوالحق اود نواز شریف غلامان او کاسه لیس نه داچی د داکتر نجیب الله ملی مصالحه ونه منل بلکه دنواز شریف په کور کی سره کیبنناست او دهغه داوامر په پیروی سره کابل ته راستون شو ، کابل یی په کنډوالو بدل کړ ، دافغانستا ن سل کلن پوځ یی دړی وړی کړاو په وطن کی دما تم بیرق پورته کړ،لعنت دی پرداسی بی غیرت ، قاتل ، کاسه لیس او بی مروتو انسا نا نو وشی چی خپل کوروران او خپل قوم سرګردان کړی ، هغه لا څه چی اوس همدغه مچ سترګی هیڅ نه شرمیږی اوځان یی د افغانستان داولسمشری مقام ته نومولی دی ، افسوس افسوس چی دافغانستان خلک سره بی اتفاق اوداقدرت نه لری چی دوی له دغه واکمنی څخه نسکورکړی،نوپه دی بنه بیاهم دپاکستان طالع او چانس ورسره یاری وکړ چی ددیوبند تنکی افغانی طالبان دافغانستان دورانی د پاره وروزل اودهغو په لاس دافغانستان فرهنګی او تاریخی شتمنی دخاوری سره خاوری کړاوداځکه چی پاکستان پخپله یوبی فرهنګ ټولنه دی چی هیڅ ملی افتخارات نه لری نو که چیری ملی افتخارات درلودای نوولی دخپل راکټونونوم په ابدالی ، غیا ثی او افغانی فاتحا نو په نوم سره نوموی . په هرصورت مونږ په پیل کی وویل چی پاکستان اوبیا په ځانګړی بڼی سره (آی اس آی )دافغانستان پرضد یوغیرمتعارف جنګ مخ ته وړی چی دهغه دکتورین دامریکی دمتحده ایالاتوددولت ددکترین کاپی اونسخه دی یعنی دافغانستان پر ضد د پاکستان دغه غیرمتعارف جګړه کوم چی په ډیرژور بڼی سره تحلیل او تجزیه شوی اودهغه په ترڅ کی کوم چي پا کستان د افغانستان بومی خلک(طالبان) دخپل استاذی په توګه دغه جګړی ته لیږی په وافیعت کی په وقفوی بڼی سره د یولړ عناصرو سازمان ورکړ شوی روند څخه ترجمانی کوی کوم چی ددغه غیر متعارف وقفوی جګړه نسخه او پلان دامریکی دمتحده ایالاتو دغیر متعارف وقفوی جګړی د دکترین د نسخی څخه کاپی شوی دي . دغه وقفوی دکترین دامریکی دمتحده ایالاتو دغیرمتعارف جګړی دپلی

کولو دپاره دهغو ځانګړی قوتونو(۰۱-۱۸) دزده کړی رهنمود دی کوم چی اوه (۷) مرحلی لری اودغه رهنمود دپوځ دمرکزی دیپارتمنت له خوا په نشر رسید لی چی د امریکی د متحده ایالاتو د غیر متعارف جګړی دمودل یوه نسخه او کاپی دی، د ا با ید په ډاګه شی چی حتمی او ضرور نه دی چی دغه (۷) مرحلی یود بل پسی عملی شی بلکه ددی مراحلوانطبا ق ځا نته خاص شرایط اوحالات غواړی ،نو په هر صورت دغه دغیر متعارف جنګ مراحل په لاندی ډول دي :

لمړی :روانی تیا ری یا چمتوالی:یرغلګر، متجاوز یا برید کونکی هیوااددهغو استخدام کړل شوی پروپاګا ند چیانو یا دمبلیغینو هغه مخکینی طرح شوی هدفمند ( هغه مخکینی روانی عملیاتونه ) تبلیغات کوم چی دمقابل هیوادد ګڼ شمیر خلکو په مینځ کی ترسره شوی دی یا ترسره کیږی مخکی دمخکی ارزیابی کوی او ددی ارزیابی اهمیت په دی کی دی ترڅو چی د متجاوز هیواد مسولین اود طرحه شوی روانی عملیا تو کړی اویا موظفین دشورش دپیل لمړنی مناسب شرایط وټاکی. یا په بل عبارت متجاوز هیواد دخپل استخدام شوی مبلغینو کارونه یا دهغو د تبلیغا تو اغیزی د متقا بل هیواد په ګڼ شمیر خلکو کی چی هغو ته هغه هد فمند روانی ناخوالی تبلیغ شویدی ارزیابی کوی تر څو چی دشورش دپیل دپاره شرایط او حالات ځانته معلوم کړی .( لکه چی په افغانستان کی دپاکستان له خوا په پراخه پیما نه سره دهغه د استخدام شوی مبلیغینو له طرفه وخت ناوخت تبلیغات ترسره کیږی چی اوس ټولو افغا نا نو ته لکه د لمر د وړانګی په څیر روښانه دی .)

دوهم - لمړنی تما س یا اړیکی : د متجا وز هیواد مخبران یا جاسوسی شبکی یا دهغه هیواد ځانګړی عملیا تی یا استخبارا تی کړي یا حلقی د شورشیا نو اصلی اوکلیدی مشر سره دشورش یا دبلوا د پیل کید ود پاره اړیکی تامینوی اودهغه سره خپل هر اړخیز مرسته اعلانوی . (تاسو ته اوس به پوره معلوم وی چی پا کستان نن په افغانستان کی دخپل جاسوسا نو او د ناراضو خلکو سره خپل اړیکی لری او هر څه چي وغواړی دهمدی افغانی اجیرو جاسوسانو پواسطه سره پلی کوی .) .

دریم - دمتجاوز هیواد دجاسوس نفوذ: متجاوز هیوا خپل جا سوسان یا اجنتان څه که داجا سوس د متقابل هیوادبومی او داخلی شورشی وی یا بیرونی ماهرجاسو س ، دعملیاتو ساحی ته څه ترپوشش لاندی اویا څه په مخفی بڼی سره لیږی یاداخلوی اوهغه ته دندی ورکوی چی د دولت د تضعیف او د کمزورتیا د پاره خپل هڅی اواند پیل کړی اوخپل دغه د ندی ته تر هغه وخته پوری ا دامه ورکړی ترڅو چی د خپل نورو ملګرو جا سوسا نو سره په ګډه د دولت پایی بی ثبا ته کړی او یا دولت نسکور کړ شی او خپل لاربنونی اومرسته دمتجاوز هیواد څخه تر لاسه کړی( دی کار کی پاکستان ډیر مهارت لری چی دهغه جاسوسان اوس دافغانستان په ټولو نهادونوکی څه برېنډ اویاڅه تر پوشش

لاندی جا سوسی کوی چی ټولو افغا نا نو ته معلوم دی ) .
ځلورم - سازمان ورکونه :د متجاوز هیواد جا سوس یا اجنت د شورشیا نو ترکیب اودهغو توان اوقدرت وخت نا وخت ارزیا بی کوی ا و بیا وروسته هغوی ته هدایت ورکوی چی پخبل تکتیکونو کی دی هم تغیر راوړی او هم خپل هلی ځلی یوڅه چټک کړی اوپه عین وخت کی مسولو کړیو ته دنده سپاری چی په ډ یر غور اواحتیاط سره دسازما نی شورشیا نو اود تر ځمکی لاندی( شورشی رهبری) سره داسی توازن اوتعادل برقرارشی چی د ترحمایت اودکمک لاندی شورشیانو او دجګړه مارو (ګوریلایانو ) تر مینځ اړیکی تامین کړل شی .(تاسو ته بلکل روښا نه دی چی پاکستان په دی کار کی ډیر ماهر دی اوهغه داچی دهغه افغانی جاسوسان څه په پټه او هم څه په ډاګه (طالبان) دافغانستان ددولت دکمزوره کولو دپاره له هیڅ هڅی او اند ځخه نه تر شا کیږی اوهمدغه پاکستان اودهغه جاسوسی (آی اس آی)دستګاه دی چی د پاکستان د ایجاد څخه لاتراوسه دافغانستان ددولت په کم بغل کولو سره یوه ګړی هم قراره نه کیښینی او هره ورځ خپل دغه شوم اوغیر اسلامی دندی ته دوام ورکوی ) .
پنځم - راغونډول یا پیاوړی کول : د متجاوز هیواد (پاکستان) اجنت اومخبر برسیره پردی چی افغا نی بومی شورشیا نو اوناراضو ته جنګی مهارتونه ورزده کوی هغوی ته وخت نا وخت توصیه کوی چی دهدفمنداود اصلی مقاماتو (دولتی یااشغالګرو ) سره له تماس نیولو څخه دی ډډه وکړی اوداځکه چی په دی مرحله او صفحه کی لازم ګڼل کیږی چی شورشی او ناراض ځواکونو ته وده ورکړ شی چی هغو ی خپل توان اوقدرت پیاوړی کړی اوپه عین زمان کی دټولو شورشیانو دموړال دلوړولو دپاره یو څه محدود چریکی عملیاتونه هم د دولت په وړاندی تر سره کړی ( پاکستان مونږ ته هره ورځ ګوریلای واسکټ پوش انتحاری واجب الجنتان لیږي اوبی شمیر افغانان په قتل رسوی ....داهم شو مسلما نی لعنت پر تاسو افغانی پاکستانی خودفروخته جاسوسانو چی پر هرمقام کی یاستیی ) .
شپږم - له مبارزی څخه ګټه اخیستنه: جګړه مار چریکی شورشیان دمتجاوز هیواد دجاسوسانو تر خارنی اومشوری لاندی په تتدریجی بنی سره خپل چریکی حملی اوجګړی ته دخپل ټاکلی اهدافو دلاسته راوړلو د پاره شد ت ورکوی او هڅه کوی چی ددولتی اوحکومتی قوتونوداهدافودپلی کیدو اویاله شورشیانوڅخه دغچ اخیستو مخه ونیسی په هرصورت ،دغه چریکی عملیاتونه داسی طرح شوی چی د غیر متعارف جګړی درهنمود داصولو په رعایت سره شورشیان کولای شی خپل ټاکلی اهداف تر لاسه کړی اوبیا په ځانګړی بنی سره که چیری دغه جګړه مار چریکی شورشیان خپل غوښتنی دمتجاوز دولت دغوښتنو سره همغاړی یا برابرکړی کوم چی دغه ډول چریکی عملیاتونه کولای شی چی دمتجاوزهیواد متعارف قوتونو ته یولږ آسا نتیا وی ورپه برخه کړی

اوهغه داچي دمتقابل دولت روتين كارونو كى اختلال رامينځته كړى او داختلال په دوام سره دولت پخپله دزوال په لورى ځى او نسكوريږى (لكه چي پاكستان دځپل جاسوسانو په مټ سره تراخره پورى دافغانستان ددولتونو په روزمره اونورمال كارونو كى اختلال رامينځته كول او لاتر اوسه ددغه هڅى اواند څخه لاس نه اخلى ).

اوم ـ انتقالى او ملكى سا زى: د متجا وز دولت هد ف اوغوښتنه د متقابل هيواد د انتقا لى او ملكى سا زى دولت په اړه داسى دى چى كه بومى شورشى ډلى ټپلى وشى كړلى چى يومشروع نوى مقتدر دولت د مخكينى رژيم په نسكورولو يا له نظا مى څخه په ملكى كولو(د مخكينى رژيم اخلالول اويا د خپل تخريبى اهدافو په سرته رسولو سره ) سره رامينځته كړى نوپه هغه صورت كى شورشى غړى كولاى شى چى خپل نوى دولت په يو مشروع نظامى انتقالى دولت يا په يوه قانونى نهاد سره ونوموى اوپه دى شان وشى كړلى چى پرنومورى هيواد باندى خپل تسلط جارى كړى .

دا وه دغيرمتعارف جګړى هغه اوه منل شوى رهنمودى مرحلى چى مو په پورته بنى څخه ترى ياد كړ.اوتاسى محترمولوستونكو ته اوس كاملاً په ډاګه شوى وى چى پاكستان دغير متعارف جګړى دهمدغى رهنمود په كاروړلو سره افغانستان ته دشورى لښكرو له داخليدوبيا ترننه پورى دافغانستان په داخلى چارو كى لاس وهى چى هيڅ ځوک پرى سترګى نشى پټولى . تاسى كولاى شى چى دپاكستان د(آى اس آى ) لاس وهنه دافغانستان په داخلى چارو كى ، دمختلفو خبرى منا بعو په ليدلو اولوستلو سره ځان مطمين كړى كوم چى پاكستان نه غواړى چى په افغانستان كى يو ملى مقتدر دولت مينځته راشى . اوهغه داچى كه افغانان د ديورند خط له مينځه ويسى اويايى په رسميت ونه پيژنى دهغه مفهوم به داوى چى پا كستان د ځمكى دنقشى له مخه ورک كيږى نو په همدى دليل سره ، پاكستان هيڅكله نه غواړى چى په افغانستان كى يو لاس ملى او پا يدار دولت يا حكومت جوړ شى .

## رفرنسونه :


۱- دديورند خط : دمطيع الله خروتى تاليف اوترجمه « ۱۳۸۷-۳-۲۸».

۲- له طالبانو څخه دپاكستان ملاتړ «خبرگذارى صداى افغان» .

۳- دپاكستانى علمانو ملاتړ دافغانى طالبانو څخه «روزنامه هشت صبح».

۴- pakistani unconventional warfare against Afghanistan (journal Article Februaey 4,2014)

۵- Karzai : Afghanistan Never Recognised The Durand Line(written by : Shakella Abrahimkhil.

World Affairs (the most dangerous place : Pakistan past , Pakistan future. -۶

دوام لری ----------------------------------------